م، داؤد مومند ۲۰۱۷/۰۷/۲۲

# تر هغی چی په هیواد کی سلطنت وه

فردا ۲۳ جولای ۲۰۱٤ هفتمین سال وفات اعلیحضرت محمد ظاهر شاه بابای ملت افغان است.[۱]

این شعر به روان پاک ایشان تقدیم است. بهشت برین و رحمت الهی نصیب شان باد.

انا لله و انا الیه راجعون

نه غلام نه غلامی نه قیمومیت وه
آزادی وه، حریت وه مملکت وه

د عزت او د وقار شمله وه جګه
هرچاره د ژوندن کی شرافت وه



د وحــدت او اتـفاق دیوه روښانه
تول قامونه چی مدغم په یو ملت وه

۱- اعلیحضرت محمد ظاهر شاه بابای ملت افغان به روز دوشنبه ۲۳ جولای سال ۲۰۰۷ میلادی مطابق اول ماه اسد ۱۳۸٦ هجری شمسی به عمر ۹۳ سالگی در کابل پایتخت افغانستان با زندگی و جهان وداع گفتند. انا لله و انا الیه راجعون

که پښتون که هزاره که تاجیکی وه

تفاهم او وروړگلوی ملی وحدت وه

له واخانه ترهرات په ټول وطن کی

وروروِلی وه، اعتماد وه، امنیت وه

د وګړو مال، ناموس پـه حراست کی

چـی ملی مـو زعامت او قیـادت وه

کابینه وه که قضاء او که شـوری وه

تـدبـر وه، عدالت وه، مشورت وه

که سفیر وه، که وزیر یا که قاضی وه

سیاست وه، علمیت وه، عدالت وه

علمیت که عاملیت او که تدبیر وه

هرچاره کی څرګنده لوی حکمت وه

میوندوال وه که شفیق که یوسف خان وه

که "پژواک" که "حبیبی" یا که "الفت"وه

که "رشاد" وه، که "سلجوقی" یا "بینوا" وه

هر یو تن یی افتخار د ټول ملت وه

په "یونو"کی مو څوکی لمړی قطار کی

په نړی کی موهم قدر هم منزلت وه

دا ملت خو، د ایشیا په زړه یادیږی

"علامه داکتر اقبال" پری معرفت وه

د جاسوس او د مخبر په کی ځای نه وه

ماهیت کی مـو ملی ټول حکومت وه

نه د خرو او ناکسانو رهبری وه

نه طالب نه مجاهد نه جهالت وه

په نړی کی مو په برخه سر لوړی وه

تر هغی چی په هیواد کی سلطنت وه

پای